# د پښتو سندره

حضرت زبېر زبېر

هـېـخ څــوک پــه تــا چرتــه د نــاز نشـــته
نشـــته اواز نشـــته پــه دې وطــن کښــې
اې پښـــتو ســـتا نغمـــو لـــه ســاز نشـــته
نشـــته اواز نشـــته پــه دې وطــن کښــې
پــه دې وطـــن کښــې ربــه
دا ســـــزاوارې نغمـــــې
زمــــا د پولـــــو پټـــــو
د غــــــرۀ د لارې نغمــــې
د غلامـــۍ پـــه دام کښــې
دا را ايســــارې نغمـــــې
هـــېخ بنـــد بنـــاء ئـــې د پـــرواز نشـــته
نشـــته اواز نشـــته پــه دې وطــن کښــې
دا د ننګونـــــــو ډکـــــې
خـــــوږې خـــــوږې ســـندرې
دا د نيـــــازبينو خلقــــــو
ښــــکلې درنـــې خبـــرې
دا د غېـــــرت او پښــــــتو
د قـــــافلې لښــــــکرې
د دې لښـــــکرو څـــــوک همـــــراز نشـــــته
نشـــته اواز نشـــته پــه دې وطــن کښــې
دا د خوشــحال پـــه غورځنـــګ
راپورتــــه شـــوې جـــذبې
دا د رحمــــــان د ژبــــــې
خـــــورې ورې پلوشـــــې
د نغمـــــه ګـــرو زړونـــــو
د ژونــــد د لارې قيصــــې
د دې قيصـــــو چرتــــه آغـــــاز نشـــــته
نشـــته اواز نشـــته پــه دې وطــن کښــې
ټـــــول پښـــــتانۀ وګـــــړي
لکــــه ژونـــدي مــــړي دي
يـــــا د دې خــــاورې زلمــــې
بلـــــې ســــــودا وړې دي
زبېــــره ډېـــــر بـــــې حســــه
ســــتا د وطــــن غـــــړي دي
دوي کښـــې د شـــعر هـــډو دمســـاز نشـــته
نشـــته اواز نشـــته پــه دې وطــن کښــې

انور مانيروال

د ژونــد نــه پــاتې کېــږو د جانانــه پــاتې کېــږو
لــږ نــور کــۀ ايســارېږو د کاروانــه پــاتې کېــږو

په کر کښې د ګلونو مخکښې مخکښې يُو بيا ولې
پــه وبــش کښــې د ګلونــو د باغوانــه پــاتې کېــږو

وزر شــته نـۀ اوزار نـۀ زر نـۀ زور شــته د ے جانانــه
د ژونــد پايــه پــه مخکښــې ده روانــه پــاتې کېــږو

زمــونږه د خــوش فهمــو بــه نــور څـۀ حالونــه وايــم
بــس هــره ورځ پــه هــر قــدم حېرانــه پــاتې کېــږو

مــونږ خپلــه برخــه مينــه پــه دې هــر څـۀ وشــيندله
خو برخــه کښـې د ز مکې هم اسمانه پاتې کېــږو

تــر څــو چــې خــود پرســتو ســره واګــې وي انــوره
دې نــوې دنيــاګۍ تــه بــه پــه ګرانــه پــاتې کېــږو

## اجمل یوسفزے

خوږې د ننګ او د غیرت د پښتنو سندرې
چرته کښې ورکې شوې د دې لارو کوڅو سندرې

خلق پردي شو چاپېرچل محسوسومه پردے
چې پښتانهٔ بچي ئې وائي د پردو سندرې

تورو تېرو کښې راته هم روښانه لاره ښائي
دا ځینې ځینې د رڼا د پلوشو سندرې

زهٔ تماشګیر نهٔ یم صفا صفا خبرې کوم
دوي سپرلي نهٔ غواړي خو وائي د سپرلو خبرې

پښتانهٔ مړهٔ دي چې حقونه ترې پردو وتروړل
اجمله مهٔ وایه دې مړو ته د جذبو سندرې

## عبدالغفور لېوال

مه وایه چې سترګو کښې مې تش د خمار سرهٔ اوسي
دلته خو زما هم یو وړوکے غونډې زړهٔ اوسي

څهٔ په درز چمبه وهي او ګډې شي ګېډۍ ګېډۍ
دنګې مستې پېغلې چې سر خېلې د وادهٔ اوسي

لمره دعا نشم کړے چې کلي ته دې وبولم
دومره اور خو راکړه چې لاسونه مې تاودهٔ اوسي

سم به وي، خو کم به وي، زړهٔ ستا د قد دربار نهٔ دے
ستا د ښو کور دے دلته ټول پکښې کاږهٔ اوسي

سیند ورنه راوړي سپینو اوبو کښې سور د وینو رنګ
ښکاري چې بر کلي کې لا اوس هم پښتانهٔ اوسي

## پیغام

### عبدالمنان الکوزے کوټه

دا د لسریزو سترے، خروبېدل غواړي
د سرو لالونو څانګې، پېوندول غواړي

اې د شائستې ملکې، ټپه ټپه کهٔ مېوند
درخو رباب د آدم، تار ته غزل غواړي

بیا د خیبر لېوني، په کهکشان کښې روان
د پاني پت ترانې، جانان لیدل غواړي

بیا د ازغیو لښکر، ګلاب دے پاڼې پاڼې
بیا د سپوږمۍ پلوشې، ځان ځلول غواړي

د واورې سپین ګلالے، د زړګي وینې غواړي
د نفاق بل اورونه، تل ختمول غواړي

دا د الماسو امېل، دانې دانې له عناد
بلبلان وېښ په نغمو، جانان ګټل غواړي

## نورمحمد نور کراچی

د زړهٔ حال خرګندومه لر او بر ته
یوې چغې ته به خېژم د غرهٔ سر ته

نن زما د زړګي وار د ماتېدو دے
ډېر غمونه را ټول شوي دي اشر ته

چې اشنا کرلې ونې را لوئېږي
زهٔ به هم ناست یم تر هغې پورې لمر ته

په دې ښار کښې نور زمونږ اوسېدهٔ ګران دي
ملا تړل به غواړي بیا نوي سفر ته

چې د بل بې وسه سترګې ډکې ګورم
یو غونچه ازغي مې تنوزي ځیګر ته

د نور اوښکي شوې په خپل ګرېوان کښې وچې
هر یو څاڅکے نه رسېږي سمندر ته

## محمد اقبال مومند

په سترګو کښې لمبې په نظرونو کښې اورونه
دا بعضې جونه ورې په رُخسارونوکې اورونه

دا څوک ئې چې نۀ تۀ ښکارې، نۀ مخ، نۀ دې لاسونه
دا څوک ئې چې شیندې راته کورونو کښې اورونه

هغه په بیابان لارو کښې هم په ګلو ګرځې
او مونږ ته ټوکېدلي دي په ورونو کښې اورونه

تر څو چې د ضمیر په زمکه راج د بې حسۍ وي
ټوکېږي به هم داسې بهارونو کښې اورونه

یشبړې پکښې ستا د سینې واؤرې واؤرې کاڼي
یه سواته! ستا په دنګو دنګو غرونو کښې اورونه

په پاڼو د ګلونو کښې بویونه د بارودو
په څانګو د نخترو چنارونو کښې اورونه

اقباله! څومره ښې دي پېرزوئینې د حالاتو
چې ږدي راته د زړونو پرهرونو کښې اورونه

## اکمل لېونے

دروغ وائي ربښتیا خبره کوم ده چې چا وکړه
ښه سپینه او صفا خبره کوم ده چې چا وکړه
ما وې درته جانانه! څه په خپله چې پخلا شو
ترمبنځه زما ستا خبره کوم ده چې چا وکړه
د ځان دپاره هر سړے پښتو کوي پښتون دے
د خوارې پښتونخوا خبره کوم ده چې چا وکړه
د کرکې د نفرت خبرې هر طرفته اورم
د مینې د وفا خبره کوم ده چې چا وکړه
دې دور کښې هر څوک د زورورو ډله ګوري
زمونږ د ملګرتیا خبره کوم ده چې چا وکړه
محفل کښې د خبرو د کولو خلق ډېر وو
اکمله! بې له تا خبره کوم ده چې چا وکړه

# د امن دعا

## عمر مختار اپریدے

تر څو به خدایه دا خزان وي په مونږ
تر څو به خدایه تنګ جهان وي په مونږ

تر څو به خدایه غلامي کوو مونږ
څو به جنګونه د پردي کوو مونږ

تر څو به بلې سرې لمبې وي په مونږ
تر څو به ژوند تیارې تیارې وي په مونږ

خدایه! بس نور مې امتحان مۀ اخله
مانه نور کار د دې جهان مۀ اخله

ځکه چې زۀ هم ستا انسان یم ربه
زۀ هم د خوږ ژوند په ارمان هم ربه

زۀ هم انسان یم خوشحالي غواړمه
زۀ هم د امن زندګي غواړمه

زۀ هم ګلونه پسرلے غواړمه
دې پښتونخوا کښې قرارے غواړمه

زۀ هم اوس خدایه څۀ بدلون غواړمه
یوه لحظه دلته سکون غواړمه

لکه انسان دلته ژوندون غواړمه
مُسکا په شونډو د پښتون غواړمه

مونږ له هم ژوند د نوبهار راکه
په خپله خاوره خپل اختیار راکه